# د خپلو څښلو د اوبو نمونې اخیستل

VERMONT DEPARTMENT OF HEALTH

کیټ OA تبخیریدونکي اورګانیک مرکبات کلورین نه لرونکي

**احتیاط:** په کیټ کې هایډروکلوریک تېزاب (HCL) شتون لري. هایډروکلوریک تېزاب خطرناک وي، مهرباني وکړئ احتیاط کوئ. که چیرې هایډروکلوریک تېزاب ستاسو په څرمن ولګي، نو د ډېرو اوبو سره یې ومینځئ. مونږ سپارښتنه کوو چې د نمونې راټولولو پر وخت خوندي ساتونکې عینکې او خوندي ساتونکې دستکشې کاروئ.

## 1. تاسو په څه ته اړتیا لرئ؟

**په دې کیټ کې:**

- د اوبو د نمونې د اخیستلو مالوماتي فورمه (کېم 202)
- درې د ښیښې بوتلګې (چې د هایډروکلوریک تېزابو لږ شان مقدار ولري، نو دغه بوتلګې مه کړوئ او مه یې تاوهئ)
- بوتلګې چې د "TRIP BLANK" لیبل ولري. پرانیزئ یې مه. دا کنټینر باید د نمونو سره بیرته ولېږل شي.
- سړوونکی/لېږونکی د واورې د پیکونو سره. **ډاډ ترلاسه کړئ چې د نمونې اخیستلو څخه دمخه د واورو پیکونه کنګل شوي وی.**

**په دې کیټ کې شتون نه لري، خو د نمونې اخیستلو دپاره اړین دي:**

- دستکشې او د سترګو خوندي ساتونکي کالي

## 2. چمتووالی ونیسئ

- د هغې ورځې په سهار کې نمونه ترلاسه کړئ چې استوئ یې.
- مخکې تر دې چې تاسو خپلې اوبه نمونه کوئ د واورو پیک (پیکونه) کنګل کړئ.
- **که ستاسو څاه یا چینه په دې وروستیو کې بې مکروبه شوې وي**، نو خپلې اوبه په تېزه وبهوئ ترڅو د کلورینو بوی له منځه لاړ شي او بیا د ټیسټ کولو څخه دمخه دوه ورځې انتظار وکړئ. که کلورین شتون لري نو ستاسو نمونه نه شي ټیسټ کېدلی.
- په پاکو اوبو کې **خپل لاسونه ومینځئ.** پر هغه ورځ چې تاسو د خپلو اوبو نمونه اخلئ نو **مه** ګاز پمپ کوئ او مه کوم الوتونکي کېمیکل اداره کوئ. د خپلې نمونې اخیستلو څخه دمخه سینیټایزر **مه** کاروئ. **دا ټیسټ د کېمیکلو دپاره حساسیت لري.**
- خوندي ساتونکې عینکې او درستکلې واچوئ.
- د څښلو د اوبو هغه سرچینې ته لاړ شئ چې تاسو یې ټیسټ کول غواړئ او د خپلې نلکې څخه سکرین لیرې کړئ، که چیرې وي. ډېری نلکې په خپله خله کې سکرین لري، تاسو کولی شئ د نلکې د خلې څخه یې لیرې کړئ.
- اوبه تر 4-5 دقیقو وبهوئ، د اوبو بهیر یوې نرۍ دارې (8/1 اینچو) ته راټیټ کړئ ترڅو د اوبو څاڅکي او د هوا بړبوکي محدود کړئ.
- د اوبو د نمونې د بوتل د سرپوښ دننه برخه یا خله **مه** لمس کوئ.

## 3. ترلاسه یې کړئ

- د هغې ورځې په سهار کې نمونه ترلاسه کړئ چې استوئ یې.
- سرپوښ لیرې کړئ او په ورو ورو بوتلګې ډک کړئ. د سرپوښ یا بوتلګې دننه برخه بل کوم څیز سره لمس کیدو ته **مه** پرېږدئ. بوتلګی له حده زیات **مه** ډکوئ او مه کنګالوئ ځکه چې دې سره به هغه پاوډر لیرې شي کوم چې دغه نمونه په بوتلګې کې دننه خوندي ساتي.

# د خپلو څښلو د اوبو نمونې اخیستل

**کیټ OA تبخیریدونکي اورګانیک مرکبات　　　کلورین نه لرونکي**

- اوبه ورواچوئ ترڅو دا د بوتلګي له غاړې څخه لږ پورته وي (تصویر وګورئ). دا د هوا د جېب جوړېدو مخنیوي کې مرسته کوي. بوتلګي په کراره وټکوئ ترڅو د هوا بړبوکۍ لیرې شي. **د هوا بړبوکۍ به ستاسو د نمونې د ټیسټ کولو مخه نیسي.**



- سرپوښ په خوندي توګه وتړئ.
- د پاتې دوه بوتلګو دپاره د اخیستنې ګامونه تکرار کړئ.
- بوتلګي کاږه کړئ او سرپوښ یې وټکوئ ترڅو د هوا د بړبوکو کتنه وکړئ. د بیخ څخه دوه ځلې کتنه وکړئ. که تاسو د هوا بړبوکي ووینئ، نو بوتلګی خلاص کړئ او د اوبو یو څو نور څاڅکي ورته واچوئ ترڅو د دې سطحه د بوتلګي له غاړې څخه لږه پورته شي او سرپوښ په خوندي تاو کړئ او ویئ تړئ.
    - **که په لابراتوار کې د نمونې د ترلاسه کولو په وخت د هوا بړبوکۍ شتون ولري، نو دغه نمونه نه شي ټیسټ کېدلی.**
    - **بوتلګی مه تشوئ او بوتلګی له حده زیات مه ډکوئ.** خوندي ساتونکی به له منځه لاړ شي او ستاسو نمونه به په سمه توګه ټیسټ نه شي.
- د اوبو د نمونې اخیستلو مالوماتي فورمه بشپړه کړئ، د هغې نېټې او وخت چې تاسو د اوبو نمونه اخیستې ده، ستاسو د نوم، پتې او برېښنالیک ادرس په ګډون. **د دې مالوماتو پرته ستاسو نمونې نه شي پروسیس کېدی.**
- که تاسو په خپلو اوبو کې **د اوبو درملنه کاروئ** نو په فورمه کې یې تشریح کړي (د نمونې په توګه: د اوبو نرموونکی).
- د نمونې پر بوتلګیو لیبلې ولګوئ ترڅو د خپلې اړوند فورمې سره سمون ولري (د نمونې په توګه: جان سمېټ، د پخلنځي لاسولونی).

## 4. بېرته یې ورکړئ

- د فریزر پیک (پیکونه) او د اوبو د نمونې کلک تړل شوي بوتلګي په درکړل شوي کولر بوکسه کې کېږدئ.
- د اوبو د نمونې د اخیستلو بشپړ شوې مالوماتي فورمه په یوه بوکسه کې کېږدئ. موږ وړاندیز کوو چې فورمه په یوه بنده پلاستیکي کڅوړه کې کېږدئ چې لونده نه شي.
- خپله نمونه د روغتیا د څانګې لابراتوار ته د لاندې ورکړل شویو طریقو له لارې په 48 ساعتو کې دننه ورسوئ:
    - نبغ په نېغه یې لابراتوار ته یې په دې ادرس ورسوئ 359 South Park Drive, Colchester, Vermont (د دوشنبې د ورځې څخه تر جمعې، د سهار 7:45 څخه تر د مازیګر 4:30).
    - د روغتیا ځایي دفتر کې یې وسپارئ د وړونکي د وړلو د وخت څخه **مخکې**: دې سره ورکړل شوې پاڼه وګورئ کومه چې پتې او د وړلو وختونه لري. نمونې یوازې د دوشنبې د ورځې - د زیارت ورځې پورې منل کېږي.
    - د FedEx یا UPS له لارې یې د شپې ولېږدوئ پر دې ادرس واستوئ 359 South Park Drive, Colchester, Vermont 05446 (د دوشنبې د ورځې څخه تر د پنجشنبې د ورځې پورې. **د جمعې یا شنبې پر ورځ یې مه لېږدوئ، ستاسو نمونې به د ټیسټ کولو دپاره په وخت لابراتوار ته ونه رسیږي.**

د ټیسټ پایلې به د نمونې له ترلاسه کولو څخه وروسته په 7 کاري ورځو کې درواستول شي.

د نورو مالوماتو دپاره، او د خپل څښاک د اوبو ټېسټ کولو په اړه د ویډیو کتلو دپاره، وګورئ [healthvermont.gov/water](healthvermont.gov/water)